اجل به يې راشي او وارثان به يې د پور د اسلام خزانې
ته وړنه سپاري او ته چې د خپل مال قدر پيژني نو
البته مال به د يې زما وارثانو ته پرې نښ دي.
کرانې زده کوونکو! د حضرت عمر رض د عدالت
څخه مو د نمونې په ډول دا ده کيسه ولوستې چې د
هغه د عدالت غاښتونکي کوي. نو مسلمانو تولنو
مسلمانانو ته لازمه ده چې د بيت المال او
همدارنګه د ټولنې ټولو برخو کې اسلامي
عدالت په نظر کې ونيسو او د اسلام سپيڅلي
قانون په ژوند کې ټينګ کړو.

ښاغلي ښوونکي دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې د حضرت عمر فاروق رض
د کارنامې په هکله څه وليکي.

پوهنه

علم د پوهې پېژندنې او خبرتیا په معنی دی.
علم دیوې ربړې خبرې دی چې د انسان زړه، دماغ
او د هغه د بریالیتوب لارې روښانه کوي. انسان
د بې لارې او مایوسۍ څخه خلاصوي او هدف ته
د رسیدو لپاره یې اوار وي. له بلې خوا جهل او نا
پوهي د سې تیاره ده چې انسان له هر خطرناکه او
خواري سره مخامخ کوي. څښتن تعالی خپله د پوه
او نا پوه د توپیر ترمنځ داسې فرمایي
آیا هغه کسان چې پوهیږي او هغه کسان چې نه
پوهیږي سره برابر دي؟

هم هیڅکله پوهنه اونا پوهي، پوه اونا پوهه نا او
بیا ورته سره یوتر بله برابر نه دي، ځکه پوه د پوهي
په زده کړه او په هغې باندې د عمل په واسطه
د دنیا او آخرت دوارو کمیتو هغه څوچې د انسان د پټو او
عزت سبب کرځي او د خلکو په وړاندې د هغه قدر
او د نا وي پرې زیاتیږي، هغه علم دی چې له
عمل سره یوځای وي.

د علم په وسیله انسان خپل ځان او خپل خالق
(خدای ﷻ) پیژني نو لازمه ده چې علم له عمل
سره یوځای وي ځکه وایي، «د علم میوه او
ثمره عمل دی.» بې عمله عالم دشنډ وني
په څیر هیڅ ارزښت نه لري.

زده کوونکي بايد د اسلامي علومو زده کړي تن
څنګ د تخنيک او صنعت زده کړه هم وکړي .
حکمدار ونه نړه دګر کې تخنيک اولاسي کارونو
ته هم اړتيا لري . بايد کوښښ وکړو چې دنومورو
علومو له زده کړې څخه پې برخې پاتې نه شو
او د اسلام د دښمنانو د مقابلې په وخت کې
وکولای شو چې پخپلې پوهې او تخنيک سره د -
دښمنانو مقابله وکړو .
همدا ډول له خپل علم او پوهې څخه بايد
د انسانانو د هوساينې او سوکالۍ لپاره
او همدا رنګه د خلکو د ستونزو
د لرې کولو په لاره کې کار واخلو نه د چې زمونږ پوهه

په خلکو باندې د زور او زیاتي کولو وسیله شي یا عالم د اسې غله په څیر شي چې په لاس کې یې خراغ نیولی وي خلکو مالونه په آسانۍ سره پټ کړي.

مونږ باید دخپل علم پواسطه نوروا خراع کولو او اکشافاتو کې کوښښ وکړو او دا ایمان او عقیدې په ربنا کښې لمعلم څخه د بشر د نیکمرغۍ لپاره کار واخلو.

لغت	معنی	لغت	معنی
سوکالی	آرامی - نیکبختی	ستونزو	مشکلات
مأیوس	پریښانه	گټی	فایده
گیتی	دنیا	هوسایی	آرامی
دگر	میدان - دښته	پوهه	هوښیاری

سپارښتنې سرورنکی دې دپوهې د اهمیت په هکله زده کړونکوته بشپړ معلومات ورکړي او زده کړونکو ته لارښوونه وکړي چې دالوست په دقت سره ولولی او مفهوم یې په خپله ژبه بیان کړي.

مطالعه

مطالعه داسې عمل دی چې د انسان د ستر کولو مخې څخه د جهل اوبنا پوهی پردې لرې کوي. مطالعه انسان د مختلفو اوارزښتناکو موضوع گانو او مطلبونو څخه خبروي. انسان دیته هڅوي چې باید د علم او پوهې څښتن شي.

دیې سبب اوارزښتناکه شیان د مطالعې په وسیله لاس ته راځي. د مطالعې له برکته انسان د علم، پوهې او کمال څښتن کیږي. مطالعه د انسان دماغي قوت او قدرت ته وده اوپراختیا ورکوي. د مطالعې په مرسته سړی کولای شي چې د بنده اوبد

ترمنځه تو پير وکړي، زيار وباسي او دخپل دنيا
او آخرت دښه والي لپاره هاند او هڅه وکړي.

مطالعه انسان دخپل ژوند انرد مسئوليتونو څخه خبروي
او انسان ته لارښوونه کوي چې څه د ول خپل مسئو
ليت رفع کړي او پوه شي چې مسئوليت څه
ته وايي.

همدا مطالعه ده چې انسان دهغې په وسيله
خپل خداى (ج) پيژني او اړيکې يې له خپل خالق
(خداى (ج)) سره ټينګې کړي. د مطالعې په مرسته
سړي کولای شي چې دخپل خداى (ج) عبادت په سمه
توګه وکړي. د اسلام په سپيڅلي دين او شريعت پوه شي

او د اسلام له لارښوونې سره سم عمل وکړي او نور خلکو ته د ښو او بد و توپير
اولارښوونه وکړي، د بدې لارې له تګ څخه يې مخنيوی
وکړي او ښو کارونو ته يې وهڅوي. د مطالعې په
وسيله انسان د دنيا او آخرت د نيکمرغۍ
لارې پيدا کولای شي. له همدې امله په پاک قرآن
د دې خبرې تاکيد شوی دی چې انسان بايد د
علم او مطالعې په وسيله د خپل ژوند انګيرې لار
پيدا کړي او په هغې باندې روان شي.

څرنګه چې مطالعه ډيرې ګټې
اوښکيګنې لري. نو ښايي چې تاسې د ښو ونځې
د زده کوونکو په توګه د تل لپاره په هرځای او هر

وخت کې مطالعه وکړی او هڅه وکړئ چې داسې سبه
او کښتور کتابونه پیدا کړی چې تاسو ته په دنیا
او آخرت (دواړو) کې ګټه ورسوی.

لغت	معنیٰ
هاند	تلاش، هڅه، کوښښ
هڅه	کوښښ
کښتور	مفید
نړی	دنیا
سپېخلی	پاک

سبوونکی دی د مضاف دار زښت په هکله زده کوونکو ته
کښتوري لارښوونې وکړي.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إنما بعثت معلما

مشکوة شریف

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی
بیشکه همدا خبره ده چی لیږلی شوی یم زه
معلم په لار شوی

ښوونکی

ښوونکی هغه شخصیت دی چې د علم او پوهې په زیور سره سمبال دی . خپل علم او پرهه نورو ته په ډیره مؤثره توګه د تدریس او لارښوونې له لارې رسوي. نوریلای شو، څرنګه چې لمر د خپلو وړانګو په واسطه

حمد

پدنامد دهغه خدای می دا بیان دی
چې یو نوم یې پر نو مونو کې سُبحان دی
هم پادشا دی د جملہ وپادشاهانو
هم د هر یوه سلطان پر سر سلطان دی
چې پرده شي هغه کار په هیڅ انه شي
هر تو انا دد تر تو ان پورې ناتوان دی
پر سجده یې حُسن کې سردی لکو لی
هم یې زو رند پر رکوع سره آسمان دی
هره ونه پر قیام ورته ولاړه
هر کیاه یې په تسبیح سره زبان دی
همه واړه پر تسبیح دده مشغول دی
که ملک دی که پیری دی که انسان دی
هر ماهي یې په دریاب کې حمد وایي
هر مرغۍ یې په چمن کې ثنا خوان دی

نړۍ روښانه کوي ، ښوونکي دعلم اوپوهې نور په ټولنه
کې خپروي ترڅوچې خلک دعلم اوپوهې په رڼا کې دلوړو
پتمن ژوند خاوند اوداخرت ښېګڼې ورپه برخه شي .

ښوونکی کوښښ کوي چې تاسوته علم اوکمال در
وښيي اوپه داسې معنوی جوهر موسمبال کړي چې په
هرکار کې دترقۍ اوپرمختګ په لورا وچته گامونه واخلی.

ښوونکی دښوونې اوروزنې په ذریعه تاسوته
داسې ثروت ورېخښي چې تلپاتې تاسوسره مل وي نه يې
څوک درڅخه اخیستلی شی اونه ورک کیدای شي .

ښوونکی ستاسی ذهني او معنوي روزنې اوپالنې
ته ډېر پام لري نوکه څوک غواړي چې دعلم اوپوهې
خاوند اودډنیا اواخرت بریالیتوبونه ترلاسه کړي نوخپل
ښوونکوته دې په احترام اودرنه سترګه وګوري .

وایي چې امام اعظم صاحب (رح) په یوه مجلس کې ناست و، یو هلک راغی امام اعظم صاحب (رح)، دهغه هلک دعزت لپاره ودریده چاپوښتنه ځنې وکړه چې:

څنګه ددې هلک مخې نه ولاړشوې؟

امام اعظم صاحب (رح) وویل: دا زما استاد زوی دی. یو وخت مې دده له پلاره څخه یوه مسئله زده کړې وه، کدې ځکه د استاد تعظیم وښه کړم نو څنګه به له خپل علم څخه ګټه واخلم.

ښو ونکی دی د استاد مقام او درناوي په هکله د اسلام د سپیڅلی دین له نظره لیدنه زده کوونکو ته معلومات ورکړی او هم دا لارښوونه وکړي چې د درس په وخت سره ولولي او بیا ګهرو خپل پوهه د استاد دحق په هکله بیان کړي.

لارښوونې

همیشه د الله ذکر عبادت کړئ
پاک قرآن په ډیره مینه تلاوت کړئ
په هر وخت کې د خدای نافرمانۍ څخه ډډه
په هر کار کې صداقت او عدالت کړئ
د اسلام هر یو حکم تابعداری
همیشه تلنه په قانون د شریعت کړئ
مؤمنان دی سره یو تر بله ورونه
په خپل منځ کې ورورولي او محبت کړئ

د ښاغلي ښوونکي دی د پورتنۍ شعر هر یو فرد په آسانه ژبه توضیح کړي
او بیا له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې هر یو فرد په خپله ژبه بیان کړي

شعر

زړه دې وینو په وسواس د شیطان ولې؟
داخل کړ دې کړ په ظلم ویران ولې؟
لکه طفل تل په لهو لعب خوښ یې
خبر نه یې په خپل سود او په زیان ولې؟
د ځوانۍ عمر د تیر په معصیت کې
په پیرۍ کې باندې نشوی پښیمان ولې؟
همیشه وایې فردا به ننه غم خورم
د پرون پسې ته نه کړې ارمان ولې؟
هومره توان چې د ګناه لرې کمبخته
د طاعت ته نشوې بې حده ناتوان ولې؟

داجهان دمحنت سرای دی ژړا بویه

شپه او ورځ بی غمه کړې خندان ولې؟

خوار وجود دې عبادت لره پیدا شو

آلوده دې کړ تمام په عصیان ولې؟

هیڅ باور دې د شارع په قول نشې

بې تصدیقه بولې ځان مسلمان ولې؟

چې نه زادنه راحله تنها سفر کړې

„پیر محمد غریب به نه وی حیران ولې؟

زده کړونکی دپورتنۍ شعر په شان یو بل شعر په خپل کتابچو کې ولیکي.
شاغلی ښوونکی دې د درس په پای کې له زده کړونکو څخه وغواړي چې
د پورتنۍ شعر هر یو فرد مفهوم په خپله ژبه بیان کړي.

لغت	معنی
وسواس	بدهاندیښنه
طفل	ماشوم
سود	ګټه
زیان	تاوان، ضرر
معصیت	ګناه
شارع	رهنما ـ د شرع خاوند
زاد	توښه
راحله	بارکښ

سباغلی ښاورنکی دې لږ ډیر ګورنکو څخه وغواړي چې دهر بولنت هم وزن ضد اوهم ردیف په هکله فکر وکړي اوبیاپې بیان کړي .

التائبون العابدون الحامدون السائحون الراكعون الساجدون الآمرون
بالمعروف والناهون عن المنكر والحافظون لحدود الله
وبشر المؤمنين

دوی تر په کورنکی دی له معاصیو [عبادت کونکی الله] ته په اخلاص سره لی تعلق پاتی کیدونکی دی [د سیزی لذائذو څخه] رکوع کونکی دی سجده کونکی دی.
پهلونه خو ترضیلو کښی [حکم کونکی دی ته په معروف (ښیګڼو) او منع کونکی دی
[خلقو لره] له منکر و اوبدکارۍ] ساتونکی دی د حدود الله ـ
[یعنی داحکامو پې چې عمل پرې کوی] او زیری ورکړه ای [محمده]
مؤمنینو ته [چې موصوف دی په دغو صفاتو سره جنت سره]
(پرولسم پاره د توبې سورة)

د مجاهد صفات

مجاهد هغه چا ته ویل کیږي چې خپل قول ژوند،

مال شتمنی، پوهه او فکر یې دلوی خدای
د رضا او د حکمې پرسر د قرآن حکومت
د منځ ته راوستلو لپاره وقف کړي وي.
د مجاهدلو یو اوعالی صفتونه په لاندی دول
بیانیږي:

۱- مجاهد باید د تقوی او پرهیزګاری خاوند
وی او د پاک خدای (ج) د تولو اوامرو
منهیاتو پابند وي.
۲- مجاهد باید رښتینی او صادق وي او هیڅکله
یې له ژبې څخه درواغ وانه وریدل شي.
۳- مجاهد هیڅکله د خپلو مسلمانو وروڼو
په مال او شتمنیو تیری نه کوی، په تیره
بیا د هغه ساتنه او حفاظت خپله دنده بولي.
۴- مجاهد د مسلمانو وژل او د مسلمانو
وروڼو آبرو او عزت پایمالول پرځان
حرام کړی.
۵- مجاهد د لوی خدای (ج) مینه او اطاعت

د تل لپاره خپله وظیفه بولی او تل د الله ذکر کوی.

۶- مجاهد د خپلو مسلمانانو زوروونکو له نفاق او دښمنی څخه کرکه کوي.

۷- مجاهد د کافرانو په مقابل کې سخت کیږي او د مسلمانانو په وړاندې مترحم او مشفق وي.

۸- مجاهد د شهامت او میړانې خاوند وي او هیڅکله بې همته نه مني.

۹- مجاهد د اسلام په لاره کې د دستونزو او زحمتونو په مقابل کې ستړیا نه حس کوي.

۱۱- مجاهد حلیم او زغمناک وي، دلوبي، ځان غوسبتنې او ریاڅخه ځان ژغوري.

۱۲- مجاهد د تل لپاره د دیني مسایلو په زده کړه کې زیار باسي، څو ښه او بد، حق او باطل د اسلامي احکامو په رڼا کې وپیژني.

۱۳- د خدای جل جلاله دلاري مجاهد د تل لپاره له غیبت او چغلۍ څخه ځان ساتي.

۱۴۔ مجاهد تل خلك نیکوکار ونوتد رابولي اوله بدو کار وتخه یي منع کوي.

لغت	معنی	لغت	معنی
وقف	لږ څنه خیرات	نفاق	بي اتفاقي
حفاظت	ساتنه	مشفق	مهربان
ابرو	عزت	شهامت	زړورتیا
اطاعت دامرمننه		حلیم	بردبار بزم من اجه
مترحم	مهربان	زعیم	حوصله
ستونزو	زحمت	چغلی	دیوه شیطانی بل ته کول
ریا	ځان ښوونه	زغمناك	حوصله ناك

زده کړونکو ته دې وخت ورکړشي چې د واقعي مجاهد داخلاقو په هکله خبري وکړي

حق په حق يې ثنا هيڅا کړې نه ده
نه له هيڅا واقع شوی دا بيان دی
مخلوقا تو هسې نه دی پيژندلی
لکه ده سره چې قدر دخپل ځان دی
حد پايان يې هيڅ سړي موندلی نه دی
مغفرت يې هسې بخښنې پايان دی

لغات	معنی	لغات	معنی
حمد	د خدای صفت	قيام	پاسيدل
سلطان	پاچا	موندلي	لاس ته راوړی
توانا	غښتلی - پياوړی	مغفرت	بخښنه

مباغلی بيتونکی دې د پورتنی حمد هريو فرد زده کړونکو ته تشريح کړی او بيا له هغوی څخه وغواړي چې د هر فرد مفهوم پخپله ژبه بيان کړي.

زده کړونکو ته هدايت ورکړئ چې پورتنۍ حمد حفظ کړي او دخپل ټولګيوال په حضور يې ولولي.

د شیخ عبدالقادر جیلانی (رح)

نصیحتونه

۱ - خپله ژبه په واک کې ساتی.

۲ - ستاسی له تولو څخه لوی دښمن ستاسو خراب ملګری دی.

۳ - مه چاته په سپکه ستر ګه ګورئ او مه یې چا پورې خندا کوئ.

۴ - بهترین عمل نوروته ورکړه ده نه نوروته لاس نیول.

۵ - ریښتینولی او صداقت دژوند اساس وګرځوی.

۶ - هر وخت د پروردګار د احسان او نعمتونو منونکی اوسی او شکریې وباسی.

۷ ـ خپل مال د خدای ﷻ د رضا لپاره خرڅ کړئ.

۸ ـ تر خوچې دې کبر او غوسه شته خان په پوهانو کې نه شمیره.

۹ ـ آخرت پر دنیا مقدم ګڼه چې په دواړو کې ګټې وکړې او که دنیا پر آخرت مقدم کړې نو په دواړو کې به تاوان وکړې.

۱۰ ـ د قرآن کریم پیروی په مکمل دول سره کوې.

۱۱ ـ الله ﷻ ته هغه خلک نږدې دي چې له مسلمانانو سره شفقت کوي.

---

* ماخذ: (نیک عمل او کرامت الاولیاء)

ګرانو زده کونکو! پورته غوره دوینا وې زده او خپلو نورو مسلمانانو وروڼو ته بیان کړئ.

د حق لاره

د حق منل د حق کول د حق ویل دي په کار
د حق په لاره کې خان قربانول دي په کار

د حق په مینه چې تیر شوي خوک له سره اوښکې
د هغو سبکلو شهیدانو په لاره تللې دي په کار

خوک چې د حق په اراده تر لامکانه رسي
د هغه ستر رهبر د هر دستور منل دي په کار

چې انساني ژوندته پې لاره د بقا وښوده
پاک اسلامي قانون په خان تطبیق ول دي په کار

پیدا له خاورو یو بیا بیرته خو د خاورو په لور
د استکبار له خصایصو خان ساتل دي په کار

پر مخ د حمکې چې ریښې یې د فساد خپرې کړې
د کمونیزم د قانون لغوه کېدل دي په کار

وایي «غالب» په هره خواد بنمن د امونه لیدلې
خو انانو تا سو ته تن هم بیدار یدل دي په کار

لغات	معنیٰ	لغات	معنیٰ
بقا	پاینبت	میینه	محبت
استکبار	خپل ځان لوی ګڼل	دستور	حکم - امر
خصایص	خاصتونه	تطبیقول	عملی کول
لامکانه	بې ځایه	رهبر	لارښود
ستر	لوی		
خصائص	خصلتونه - عادتونه		
منل	قبلول		

ښوونکی باید زده کوونکو ته ددې نظم په باره کې لازم توضیحات ورکړي او بیا له زده کوونکو څخه وغواړي چې دا شعر په لوړ آواز ولولي او د هر قرد مفهوم یې په خپله ژبه بیان کړي.

خیر خواهي

دهرچاچې دری کاره تل عادت وي
په جهان کې به دې وړد سعادت وي
اول داچې دبل عیب په خپله کوری
ښکاروله ته یې ژبه هیڅ نه ښوري
بلکه داکاچې د نورو یې پټ ان کا
په دی کار دنیا او عقبا کې ځان نیکنام کا
که څوک وینی ته په لاره نا ثواب
سمی لاری ته یې بوله چې داخل شی په ثواب
دپردوله سره خپل پیتی کله ری
چې د نورو بار په غاړه واخلی نړیې

ښاغلی ښوونکی دې دلوست په پای کې د زده کوونکو څخه وغواړی چې د خیرخواهۍ په هکله خپله پوهه بیان کړي ۰

حکیمانه خبری

۱ـ ښه سړی د مسلمانانو په خوشحالی خوشحاله اود مسلمانانو په خفګان خفه کیږي.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه

۲ـ کلکوالی اوتکړه والی دادی چې سړی خپل کار په خپل وخت وکړي.

حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه

۳ـ هغه کسان چې لوړهمت نه لري، هیڅکله به لوی نه شي.

حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه

٤ـ لومړی فکر کول په کار دي او وروسته په کار شروع کول.

حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه

۵۔ هغه څوک چې لحان تینګ کړي او پر سمه لاره شي د ډیر هوښیار دی۔

حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه

۶۔ هوښیار سړی د ډیرې وینا لپاره نه، بلکې د ډیر کار لپاره کوښښ کوي۔

۷۔ هغه څوک چې صاف زړه او سپېڅلي وینا لري د انسانیت درجې ته رسیږي۔

۸۔ بې عقله سړی ادب او بې دینه سړی انصاف نه لري۔

حضرت محسن رضی الله تعالی عنه

۹۔ د ښه خویه خلکو خبرې خوږې وي او خپله مینه ناک وي۔

حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله تعالی عنه

(لوی اصحاب)

کرانوزده کوونکو: پورته حکیمانه خبرې پخپلو کتابچو کې ولیکئ او یا یې په یاد وزده کړئ۔

د مطالعې لپاره کتاب

غوښتل

کرانه او محترمه ورونه خويندې نصرت الله!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

درورونه: د دې لپاره چې تاسې کلو پورې د لوی څښتن تعالی په فضل او مهربانۍ سره روغ او جوړ يم.

ستاسو روغتیا او خوښي د خدای تعالی ﷻ
څخه هميشه غواړم.

د قدرښو روژو زمون کلنی آزموینه پيل شوې ده،
د راتلونکي سږ شنبې په ورځ د دينيات
مضمون آزموينه لرم، هيله کوم چې ژر تر ژره
د شپږم ټولګی د دينيات کتاب راواستوې
چې امتحان تياری ونيسم او ټولو ټولګي ته
ور ځي شم. زما لخوا ټولو دوستانو ته سلامونه
ورسوه. په درنښت

لاس ليک .....

ګرانو زده کوونکو!

۱- پورته ليک څخه کتاب ډکی ولیکی.

۲- خپل ملګری ته د ميلمستيا ليک ولیکی.

د ایمان جذبه

سر نه پسې تیریم خو اسلام نه تیریدی نشم
دا می عقیده ده عقیده می پریښودی نشم
سل ځله که مړ شم دا به وایم مسلمان یم
دین زما اسلام دی خپل آیین نه بدلوی نشم
زور د ظالمانو جابرانو ته ولاړ یم
عزم می متین دی سر هیڅکله کږ یدی نشم
چل فریب د غیر او د اغیار پر ما اثر نکا
لار د حقیقت را ته ښکاره ده غولیدی نشم
زه د ظالمانو ظلم زور ته لکه سپر یم
تینګ زما ایمان دی د هیڅ غلام کیدی نشم

نعت

اول نور کړه د رسول نړۍ پیدا
رونبنایي به پیدا نړۍ په دنیا
تل صلوٰة پر محمد ﷺ په اخلاص وایه
آیینه کړه د خاطر پرې مصفا

په ظاهر محمد ﷺ ختم النبیین دی
په معنیٰ کې مُقدم دی تر هر چا
امید وار یې له دربار نا امید نه ځي
محمد ﷺ کا ن دی د جود او سخا

که مطلب دې صراطِ المستقیم وي
محمد ﷺ رسول دلیل دی رهنما
چې په زړه یې محبت د رسول ﷺ نه وي
هغه کله محبت لري د خدائ ﷻ

ما سره په ژوند کې پاک هدف دی پرې ولاړیمه

بې هدفه ژوند کې خپل هدف ته رسیدې نشم

وایي مجاهد چې زه د تینګ ایمان خاوند یمه.

بې له پاک الله نه وبل چا نه تیښتیدای نشم

لغت	معنی	لغت	معنی
آیین	قانون	جابران	ظالمان
متین	کلک		

د درس په پای کې زده کړونکو د بنوونکې په مرسته د پورتنۍ شعر د هریو فرد مفهوم په خپله ژبه بیان کړي .

کرانو زده کوونکو ! پورته نظم په ښه خط په خپلو کاپیو کې ولیکی.

کاروکړی او سوال مه کوی

یوه ورځ محمود له خپل پلار سره روان
و. په مخه ورته یو هلک ورغی او سوال یې ترې
وکړ. د محمود پلار ترې تیر شو. خو محمود
ورته د جیب نه دوه ۲، روپۍ راوایستې

او وريې کړې. چې لږ څه مخکې لاړل، نو پلار يې
محمود ته وويل: بچيه! خيرات ورکول پر
ښه کار دی خوراندې، شل، کوډ، مسافر
اونارو غ ته خيرات ورکول ډير زيات ثواب
لري.

زه هسې وړ ځ دغه هلک وينم چې په سوال
پلپسې غواړي. په سوال کولو نو زې لاس
ته راوړل ښه کار نه دی.

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم داسې
لارښوونه کړې ده چې: (خپله رو زې د کار او زيار
په وسيله وکړئ. سوال مه کوی اوبل چا
څخه په سوال څه مه غواړی)

د حضرت انس رض څخه روايت دی چې يو انصاری

سړي د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضور ته
راغی او ورته یې وویل: ای د خدای ج حبیبه!
ماته څه راکړه؟
رسول الله ص، ورته څه پوښتنه وکړه چې په کور کې
څه نه لري؟
سؤال کوونکی وویل: زه په کور کې دوه شیان
لرم؛ یوه شړۍ ده چې یوه برخه یې اغوندو،
او بله برخه یې هوارووو. بله د لرګی کاسه ده
چې اوبه پکې څکو. حضرت رسول اکرم وفرمایل: هغه
دواړه راوړه. سؤال کوونکی دواړه راوړل. حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم
دواړه په مبارک لاس کې ونیول او ویې ویل چې دا
دواړه څوک اخلي؟ یو سړی وویل: دا دواړه زه په
یوه روپۍ اخلم.

حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دوه یادري خلې
وفرمایل چې څوک یې له یوې روپۍ څخه زیات
اخلي؟
بلسري وویل: زه یې په دوه روپۍ اخلم
رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دوباره په دوه روپۍ خرڅ
کړل او روپۍ یې انصاري ته ورکړې.
او ورته وې ویل: په یوې روپۍ خوراکي شیان
واخله او خپلو ماشومانو ته یې یوسه: اوبله
روپۍ تبر واخله او ماته یې راوبره.
انصاري تبر راوړ او حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم
ورته په خپلو مبارکو لاسونو په تبرکې لاستی
واچوه، بیا یې ورته وویل: ځه لرکې وهه او خرڅوه
یې او پنځلس ورځې دې ونه ګورم.

انصاري لرکې وهلا وخرڅول يې:

انصاري پنځلس روپۍ جمع کړې وې چې د رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم حضور ته راغی، په څه اندازه پلیسو بې جامی اخیستی وی او په څه روپو يې خوراکې شیان راښیولی و.

د خدای جل جلالہ حبیب ورته وویل: «دا کار کول تاته له سوال کولو څخه غوره دے» ځکه سوال کول به د قیامت په ورځ کې ستا پر مخ تور ټکی وکړي.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته داسخته ښه وه چې سوال کړته يې روپۍ ورکړی وای.

خو حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وانه غوښتل چې مسلمانان د يې په سوال کولو عادت شي

مسلمانان باید له سوال کولو څخه ځانونه وژغوري او تل له خپلو متو څخه کار واخلي .

«مشکوة شریف»

ښو ونکی ذی وکار اجمیت داسلام له نظره نړده کوونکوته تشریح کړي او د سکاری نتیجې هم ورته بیان کړی او له زده کوونکو څخه دالاندی پښتنی وکړی او په ځواب ورکولو کی مرسته وکړي . حضرت محمد ﷺ د کارکول په هکله څه فرمایلی دي ؟

حضرت محمد ﷺ سوال گرسره څه رویه وکړه ؟

عبدالرحمن بابا رحمة الله عليه

د پښتو ژبې یو نومیالی ادیب او صوفي شاعر وو.
د پلار نوم یې عبدالستار او په ۱۰۴۲ هـ ق کال
د پیښور د بهادر په کلي کې زیږیدلی دی.
د عبدالرحمن بابا د پیژندنې لپاره هم دومره بس دي
چې ټول خلک ورته بابا وایي.
عبدالرحمن بابا د اشعارو یو دیوان لري چې
د عبدالرحمن بابا رح، د ډیرانه په نامه یادیږي.
د ډیر عالي اولو رمضامینو یې په ساده، سنګلي او
جوړو واړو لفاظو سره بیان کړي دي. هغه خوندا او
لطافت چې د عبدالرحمن بابا په اشعارو کې شته
د پښتو ژبې د نورو شاعرانو په اشعارو کې ډیر کم

لیدل کیږي.

عبدالرحمن بابا پ؈ قوم مومند دی مګر څرنګه چې دیوعالم او شاعر بیان په یوه منطقه او تبر پورې اړه نه لري، نو پخپله ده هم دخپلې پیژندګلوی لپاره داسې ویلي دي

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه
نه خلیل نه داود زی یم نه مومند

که څه هم عبدالرحمن بابا په یوه غریبه کورنۍ کښې پیدا شوی دی او پخپله هم غریب وو خو دې غریبۍ هیڅکله د ده لوړهمت تیټ کړی نه دی.

او نه یې بې له خدایه ﷻ دا میدلاس بل چاته اوږد کړیدي. لکه چې وایي:

خوك دې را كاندى قسم په كردگار
كه درم لرم په كور كې يا دينار
نه درم او دينار نه لرم په كور كې
ولې نور عالم مې بولي دنيا دار
دا په داچه نه له خايه چيرته خوځم
نه د هيڅ يوه مخلوق يم منت بار
د غه نامتو شاعر او اديب په (۱۱۱۸) هـ ق كال
له دنيا څخه ستر كې پټې كړي دي، مقبره
يې د پيښور د هزار خانى په هديره كې
ده

بنا غلى پښتونكى دى د درس په پاى كې زده كوونكو ته وخت وركړ چې د عبدالرحمن بابا درس په خپل سره مطالعه كړى او بيا له زده كوونكو څخه وغواړى چې د عبدالرحمن بابا په هكله خبرى وكړى .

کوم عاصي به نا اميد د مغفرت وي
چې شفيع لري هم ده غوندې پيشوا
محمد ﷺ دی شهر يار د دواړو کونو
بې له خدايه محتاج نه دی دهيڅوا

هغه شپه چې محمد رسول ﷺ پيدا شو
نو ره شپه شوه لکه ورځ هسې نا
د کسرىٰ مانۍ لاړې تاپه تار شوې
کافران شوې پرې واويلا

که هر څوپه عصيان د وب زه پيرېدم
له نبي ﷺ د شفاعت کرم تمنا

لغت	مغنا	لغت	معنی
مصفا	پاک	مغفرت	بخښنه
صراط المستقيم	سمه لار	مانۍ	قصر

نا غلی سړو نکی دې د نعت شريف د هريو فرد مفهوم تشريح کړي او بيا د زده کړو نکو څخه د غواړی چې د هريو فرد مفهوم بيان کړي .

د عبدالرحمٰن بابا د کلام نمونه

کـــرد ګلونکره چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره په پښو کې به ډګ خار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه
چې همدا غشی به ستا په لور ګذار شي

کوهي مه کنه دبل سړي په لار کې
چیرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

ته چې بل چاته په خوار وستر ګوګورې
لاړ ومبې به ستا صورت تر خاروخوار شي

آدم زاد په معنیٰ وایره یو صورت دی
هر چې بل ازار وي هغه ازار شي

تن چې صبحدم روښانه لار صحیح کړه
ناکهانه به دا صبحه شب تار شي
که بل بد کاندي ته ښه ورسره دوکړه
هر یو نخل چې میوه لري سنګسار شي
هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې کشتۍ غوندي د خلکو بار بردار شي
د مات لونبی آواز کله ثابت خیژي
د هرچا عمل خرکند پخپل کفتار شي
خدای دي بد دلاسه نه کا اوکه وي هم
د رحمن دی له کل بد واستغفار شي

بنا غلی ښاغلی دي زده کړونکو ته تشریح کړي چې د عبدالرحمن بابا پوره تنې شعر حفظ کړي او د خپل تولګیوالو په حضور کې ولولی .

لغت	معنیٰ
ګل	دخزمانو نه
ګلزار	دګلونو ځای
خار	اغزی
ناګهانه	ناڅاپه
لطافت	نرمي
قبر	قوم
منت بار	احسان ورونکی

محترم ښاغلی دي د عبدالرحمن بابا رح، مقام او منزلت دیر تصوفی شاعر او نومیالی ادیب پرحیث زده ګروونکوته بیان کړي.

پندونه

۱ـ کـه خوشحالي او هوسايـنه غواړي له مسلمانانو سره په زړه کې کينه مه ساتئ.

۲ـ په دنيا کې داسې څه مه کوئ چې د قيامت په ورځ د خدای ﷻ په حضور کې پرې وشرمېږئ.

۳ـ خپل اخلاق اوکردار لوړ کړئ. د نورو بدي په نظر کې مه نيسئ.

۴ـ سبـه کار رهنه دی چې انجام يې سبـه وي.

۵ـ مؤمن خپلـه کورنۍ په خدای ﷻ سپاري او منافق يې پخپلو سر واو سپينو

۶ - یا چې اوسئ اویا داسې خبرې وکړئ چې له چوپتیا غوره وي.

۷ - مرغۍ له خپلو پښو په دام کې نښلي او انسان له خپلې ژبې.

۸ - پوهه او حکمت د پیغمبرانو میراث دی. سره اوسپین د قارون او فرعون.

ګڼونو زده کوونکو! پورتنۍ نصیحتونه پخپلو کتابچو کې ولیکئ او په ژوند کې یې عملي کړئ.

بناغلي منبونکي دې زده کوونکو سره مرسته وکړي چې هر پر نصیحت په خپله ژبه بیان کړي.

حریص همیشه محروم او بې نصیبه وي

د لوی اختر ورځ وه، مسلمانانو قرباني کولې، یوحریص سړی وویل چې اول به ولاړشم، دنورو کلوغونبې به را ټولې کړم. دخپل کلي غونبې خومې خپلې دي.

ړهی شو، بل کلي ته ورغی، هغوی غونبې تقسیم کړې وی. څه نه وَ چې ورکړی یې وای. خالی لاس خپل کلي ته راغی. د لته هم خلکو غونبې ویشلی وی هیڅ نه وپاتې حریص دخپل

حرص په سبب محروم پاتې شو. هر څوک
چې حرص کوي، صبر او قناعت نه کوي
محروم پاتې کیږي.

رباعی

د حرص یې کله چې په سر کې ده — لاس یې تش خوله یې سپیره ده
د قانع په ودۍ کې څه ده — لاس یې بند خوله یې خوږه ده

د پورتنۍ حکایت څخه موخه نتیجه واخیسته ؟
سباغلي ښوونکي دې، ګرانو زده کوونکو ته د حرص او قناعت په باره کې نرخیمات
د رکړې او بیاله زده کوونکو څخه وغواړې چې د حرص او قناعت په هکله خپله پوهه
بیان کړي .

متلونه

۱ـ کبرجن دخدای ﷻ دښمن دی.

۲ـ دغمولکبله خوزهم اوبه کیږي.

۳ـ او رته خپل اوپردي یودي.

٤ـ د ډیر وهمسادیوکیدی.

۵ـ خپل عمل دلاری مل.

٦ـ لمړیپه دووکوتونه پتیږي.

۷ـ خپله لاسه کله لاسه.

۸ـ چې تیرشو، هغه هیرشو.

۹ـ کیږدی په خپلو مرانډو ولاړه ده.

۱۰ـ د توري پرهاربه جوړشي، خودڑپي پرهار نه جوړیږي.

۱۱ ـ که شپه تیاره نو منی په شمار دي .

۱۲ ـ مـــیرونه مـــري خونو مونه يي پاته کيږي .

۱۳ ـ کا رغه د زړکي ټک کا وه چپل يي هيرشو .

۱٤ ـ چې څه کړي هغه به ريبي .

محترم سبو ونکی دی د متلونو د استعمال لپاره نه زده کړونکو ته وښيئي .

محـــترم سبو ونکی دی نه زده کړونکو ته د کورنی وظيفی په توګه د نورو متلونو د راوړلو هدايت ورکړي .

لیکوالی

کله چې سفرته ځوا وله کورنۍ او خپلوا نو څخه
لیرې کیږو نو د کورنۍ غړي او دوستان
مو د لیک د رسید وانتظار لري او غواړي
چې له احوال نه مو خبر شي .

که چیرې زمونږ له دوستانو څخه څوک په روغتون
کې بستر وي او مونږ ونشو کولای له نژدې
څخه د هغه د نارغۍ پوښتنه وکړو او مونږ
نشو کولی د دوستانو او خپلوانو له نژدې څخه
د اختر مبارکی ورکړو نو په داسې وخت نو
کې د نارغ د احوال پوښتنې یا د اختر مبارکه
لیږه لیک استوو.

د حضرت رسول کریم (ص)
د وینا ورځه

- کامل مؤمن هغه څوک دی چې د بنه خوی خاوند وی..

- هیڅ عقل د تدبیر په شان نشته، له عبثا توڅه د ژبې د ساتلو په شان بله پرهیزګاری نشته.

د بنه خوی په شان هیڅ فضیلت نشته.

- په تحقیق سره ستاسو خدای، یودی او ستاسو پلار یودی.

عرب پر عجم او عجم پر عرب هیڅ فضیلت نلري، سور پوستکي په تور پوستکي او تور پوستکي پر سپین پوستکي بهتري نلري. مګر بهتري په تقوا سره پیدا کولای شي.

څو رخپلوی او دوستی دنده موږ ځای
کړې وي.

همدا ډول که هیله ولرو چې په یو دفتر
یا اداره کې کار وکړو، هم لازم دي چې یوه
عریضه او غوښتنلیک ولیکو او یا وغواړو
دکومې موضوع په هکله چا ته معلومات ولیکو
بیا ګورو صورتونو کې دلیک لیکلو ته اړتیا
پیښیږي.

بناغلي ښاروالۍ دې زده کړونکو ته وخت ورکړي چې دلیکوال درس
په ځیر سره مطالعه کړي او په نوبت سره، مفهوم یې په خپله ژبه بیان کړي.

دليك ډول

دليك دليكلو لپاره يوازې، زده كړه، كاغذ قلم او پاكټ كافي نه دي. دا ټول دليك دليكلو اويو ځاى تړي دليز لو وسايل دي. خو خپله دليك ليكنه ځانته ډوډا ولاړي لري چې ښايي هغه زده كړو. ښه او بشپړ ليك هغه دى چې نيټه، نوم د كورنۍ نوم يا تخلص، پته، د احيستونكي سړليك دليك متن او دليكونكي لاس ليك ټول پكې موجود وي.

دليك نيټه له عادت سره سم دليك په سر كې كيږي پلوته ليكل كيږي. دليك نيټه بايد پوره وليكل شي.

د مثال په توګه د ۱۳۶۴ کال د تلې د میاشتې
د ویمه نیټه، په ځینې ځایونو کې د اختصار
لپاره د نیټه د اسې لیکل کیږي ۱۳۶۴/۷/۲ که
یو د اسې چاته لیک لیکو چې هغه موږ نبه پیژني نو
هغه موږ د نوم په لوستلو چې د لیک په پای کې وي
پوهیږي چې د لیک چا لیکلی دی.
مګر که د اسې چاته لیک لیکو چې موږ نه پوهه
بلدیت نه لري یا لومړی ځل وی چې ورته لیک
استوو نو لازمه ده چې د خپل نوم ترڅنګ یوبل
مطلب هم ولیکو، خو د لیک لوستونکی
موږ پوره وپیژني د مثال په ډول عبدالله
د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د مدرسې سر
سنو ونکی اونور.

ځینې خلك خپل نوم او پته یوازې د پاکټ پر مخ لیکي.
که پاکټ ورك شي یا د پاکټ پر مخ لیك تو ریا وران متي
بیا دلیك ځواب ورکول د نوم او پتې د نشتوالي په
سبب ګران وي. نو ښه دا ده چې تل نوم او پته په
لیك کې هم ولیکو.

د لیکونکي د نوم او پتې د لیکلو ځای د لیك په
پاسنۍ برخه کې دی. د لیك اخیستونکي نوم تل د
لیك په سر کې لیکل کیږي او هغې ته سر لیك ویل
کیږي: د دې ترڅنګ وي او مینې هغه کلمې چې د لیك
اخیستونکي ته لیکل کیږي ځینې یې په لاندې
ډول دي.

غلې
ګرانه ورورې، ګران او قدرمن ورور، ښا
ورور، ښاغلی او پیاوړي ورور، قدرمن

ورورہ کرانی اوخوږی موږی ، تروږی
، د زړہ سرہ زویه ، پوه اوعزتمند استاده اونور

د پوستی دپاکټ په شا باندې دلیکلو یوه نمونه



لیک د دی لپاره لیکو چې یوچانته معلومات ورکړو. یا
څوم معلومات له چا څخه وغواړو ، یا غواړو چې یو
موضوع او مطلب ته یوځوک سنه ځیر کړو.
کله چې غواړو چانته لیک واستوو کله هغه له مور

سره یوځای وي نو دلیک لیکلو ته ضرورت
نشته او دلیک مطلب باید په خولې ورته وواید.
په خبرو کې ښایي مطالب له موږ څخه واندې او وروسته
شي یا ځینې مطالب تکرار شي. کله داسې هم
کیدای شي چې د خبرو په وخت کې د هغه مطلب
لپاره چې نن موږ په زړه کې دي، مناسبه جمله او کلمه
خولې ته رانشي. خو دلیکلو په وخت کې څرنګه
چې وخت زیات لرو په هر مطلب کې ښه فکر کوو
او د خپل مطلب د بنکاره کولو لپاره مناسبې کلمې
تاکو او د کلمو له تکرار څخه ډډه کوو. دلیک
لیکل تل د سر لیک څخه لاندې پیل کیږي د سر
لیک او لیک د لومړۍ کرښې تر منځ فاصله
باید د نورو کرښو لپاره فاصلې څخه زیاته وي.

د لیک په لیکلوکې د کاغذ سپینوغاړو په پرېښودلو
ضرورت دي. یوه ښه لیکنه باید د کاغذ په دواړو
خواوو کې سپینه غاړه ولري، سپینه غاړه لیک
ښکلی کوي او لوستل یې آسانه کیږي.

په لیک کې دلاندې موضوعاتو یادونه ضروري ده.

۱ـ هره نوې موضوع باید د کرښې له سرڅخه پیل شي.

۲ـ د نوې موضوع لومړۍ کرښه باید
له نورو کرښو څخه فاصله ولري.

۳ـ د لیک په لیکلوکې باید د زیاتي مطالبو
له لیکلو څخه په کلکه مخنیوی وشي.

۴ـ لاندې عبارتونه د هر لیک او د هرچا
د مقام، شخصیت او حیثیت سره سم ولیکل
شي.

د دی عبارت څخه لیکلو ځای دلیک لاختم څخه
یوه کرښه لاندې وی د مثال په ډول.

ستاسی دوست، ستاد ملاقات په انتظار

ستاد بریالیتوب په هیله، په درناوی.
د درناوی په ویاندی کولو، د افغانستان د
آبادی اودستاسو د بریالیتوب
په هیله اونور.
د نمونی په ډول دالاندنی لیک چې
بریالی څېړل پلارته یې لیکلی دې او په هغه کې
یې د څېړل بریالیتوب زیری ورکړی
دې په خیرسره ولولی اوتری نه گټه واخلی.

پلار ته لیک

د ۱۳۶۴ کال د تلې
د میاشتې ۲۰ نیټه

ګرانه او مهربانه پلاره !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

زه د څښتن تعالی په فضل روغ رمټ یم .
ستاسو روغتیا او سلامتیا دلوی خدای
له دربار څخه غواړم . زما د درنې مور او کرن
وړو ورعبدالله له خواهم زړه په کرار لرئ .
شکر روغ اوجوړ دی .

ګرانه پلاره ! یوه اونۍ مخکې زمونږ کلنۍ
آزموینه پای ته ورسیده . دلوی خدای
په فضل او ستاسو د دعا په برکت زه په کلنۍ
آزموینه کې بریالی شوم او له شپږم ټولګی

څخه اووم ټولګي ته ولاړم، د دې لپاره چې د
رخصتۍ په درې میاشتو کې بیکاره پاتې نه شم
د مهربانۍ له مخې د اسلامي علومو په برخه کې
راته دوه یادرې ټوکه کتابونه راولیږي چې
مطالعه یې کړم. همدا راز که دسایښي علومو په هکله
ځینې رسالې راته ولیږي نو به یې خوښیږم.

د مهربانۍ له مخې به زما سلامونه ټولو
دوستانو ته ورسوی. که کوم امر او خدمت
وي امر وکړئ چې تعمیل یې کړم.

په درناوي

ستاسو زوی بریالی

(لاس لیک)

۔ له ابوهریره (رض) څخه روایت دی. ده له پیغمبر (صلی الله علیه وسلم)
څخه اوریدلی دي چې فرمایلي یې دي: ((څوک دی چې
پنځه کلمې یاد کړي او نفروتریې وښیي،
ما وویل زه حاضریم.
حضرت رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) له لاسه ونیوم
اود غه پنځه کلمې یې وشمارلې:
الف: له منهیاتو څخه ځان وژغوره چې تر
تولو خلکو عابد شې.
ب: په خپله هغه برخه چې خدای (ج) درکړی
خوښ اوسه چې تر تولو خلکو شکمن شې
ج۔ د کاوندي سره ښه کوه چې کامل
مؤمن شې.
د۔ کوم شی چې ځان ته خوښوي هغه نورو
ته هم خوښوه چې کامل مسلمان شې.
هر۔ ډیر مه خنده ځکه چې ډیره خندا زړه
وژني. (ترمذی)

د شمولیت عریضه

نیټه / /

د سنو ولسوالۍ اوروزنۍ محترم رئیس صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه: زه حامد د حمیدالله زوی، سن کال د شهید حبیب الرحمن دلومړنۍ سنو ونځې له شپږم ټولګي څخه په اعلی درجه فارغ شوی یم، غواړم چې خپلې اسلامي زده کړې ته دوام ورکړم. له دې امله ستاسی حضور ته عارض شوم چې د مجاهد لیسې په اوومه ټولګي کې د شمولیت امر راکړئ، مهربانی به موږ! (ومن الله التوفیق)

ګرانو زده کونکو! پورته عریضه کتاب چې ته ورسوئ او په یاد دې یې زده کړئ.

سنو ونکی دې د پورته عریضې په شان نوری عریضې هم زده کړې او لیکې.

لنډی

په دښمن ښیغ ورځه تیت نه شی
مجاهد خوان له کولی ځان نه چوینه
زه به له هغه نر لمی ځارشم
چې د اسلام په لاره تیر له سره وینه
د کولی نه زخم څه رجوړیږی
د پیغور نه زخم تر قیامته پوری وینه
د خدای نصرت ورسره مل وي
چې د الله په مینه ځان قربانوینه
د شهادت اواز دی راشه
د بې ننګۍ اواز دي مه ځه مینه

شهادت څومره سرخروي ده

شهید د خدائ رضا ګټي جنت ترځینه

مؤمن د خدای په مینه مست وي

د جنګ د ګرته ځکه هسکه غږي ځینه

ستاله بنا یې ته توپک نه ځارشم

چې پر روسانو یې بل کړي سره اورونه

د مجاهد وزلمو واردي

په پاک اسلام به تو ریالی میرونه مرینه

مؤمنان وا ړه سره یو دي

ورک د نفاق شي چې به دوی جلاکوینه

بنا غلی ښاروڼکی دي د پورتنۍ شعر مفهوم زده کوونکوته توضیح کړي او بیا هغوی څخه وغواړي چې د هرکلمې مفهوم په خپله ژبه بیان کړي .

لغت	معنیٰ
نصرت	مرسته - بریالیتوب
سرخروي	کامیابی ، سرلوړی
هسکه	جګه
جلا	بیل

ګرانو زده کوونکو! که دجهاد په هکله موږ ډیر څه زده وی ، د ټولګی مخی ته راشی او خپلو ټولګیوالو ته یې ووایی.

محترمه ښوونکی دی ـــــ ـ زده کوونکو ته کورنۍ وظیفه ورکړی چې بله ورځ پنځه لسلړی په خپلو کتابچو کې له ځانه سره لیکلی راوړی.

یووالی

یوه ورځ کریم دخپل پلار سره د رشکې په پټې کې
بیل واهه اوچمان یې غورځول . دیوچم په غوږ زور
سره یې لاس وبریښیده او درد یې پیدا کړ.
کریم ډاکټر ته ولاړ. ډاکټر د کریم لاس پلستر
کړ. کریم چې سبا بنوونځي ته راغی ویې لیدچې
میزې بې ځایه شویدی . هرځومره زیاریې
چې ویوسیت په یو لاس سره یې میز پخپل ځای
سم نشو کړای . په دې وخت کې اسد تولگی ته
داخل شو، کریم له اسد څخه د میز په سمولو کې
مرسته وغوښته . کریم د اسد په مرسته میز په
خپل ځای کیښود . کریم وویل : " اسد جانه !
لاسونه د خدای ج څومره لوی نعمت دی که انسان

لاسونه ونه لري هیڅ کار نشي ترسره کولی . زما
یولاس دردکوي ، ما ونشوکړی چې په یولاس
خپل میزسم کړم . مګرستاپه مرسته مې سم کړ
اسد وویل : « د بدن ټول غړي د خدائ
پیرښه نعمونه دي که دوه لاسونه روغ وي سړي
کولی شي چې پیرښه کارونه ترسره کړي همدارنګه
که دوه وروند سره روغ اومتفق وي ، ښه کارونه
سرته رسولی شي . په عزت اوپت کې ژوند کوي .
که بې اتفاقه وي دیولاس په شان هیڅ کار نشي
کولی . تل په خواری اوخواشینی کې ژوند
کوي . یوه کورنی له مونږ سره ګاونډیتوب
لري . په دې کورکې دوه وروند دي
دوی داسې په اتحاد اویووالي کې ژوندکوي ،

لکچې دیوتن روح وي . دوی دخوښۍ
عزت اوپت په فضاکې ژوند کوي . ددوی
ژوند ورځ په ورځ ښه کیږي ، حتیٰ ددوی
یووالي په خلکو کې مثال ګرځیدلی دی .

کریم وویل : « نړۍ کله کله دخپل بدن .
غږونه خیرکیږم اوورته فکرکوم دهغوله
کړووړې څخه پیرشیان زده کوم . که انسان
چې تیاغوږه کړي اوپه خپل وخت ښه خبره وکړي
خپله خوله ورته دامن کوږګرځي . سترګې د
علم اوپوهې له کړسره تشبیه کولی شوه دګونو
له کړووړې څخه داتحاد اویووالي درس اخلو .

خدای ج په یووالي خوښیږي . په یووالي
کې عزت ، پتمني اونیک مرغي ده . هغه څای

کې چې یووالی وي هلته آسودګي اونیکمرغي.
وجود لري . کله چې دیوې کورنۍ منځ کې
یووالی او اتحاد وي ، دا کورنۍ دخلکو په
منځ کې ډیر درنښت بریښي . مګر په بې اتفاقۍ
کې خواشیني ، بې عزتۍ او داسې نور ډیر
مصیبتونه وي ، له همدې امله قرآن کریم مونږته
په اتحاد او اتفاق کولو امر کړی دی .

لغات	معنیٰ	لغات	معنیٰ
یووالی	اتحاد	درښتیا	رښتیا
عزت	عزت	امن	کرارۍ - آرامی
تشبیه	ورته والی	متفق	یووالي
خیر	دقت	چپتیا	خاموشي

دې درس په پای کې یو رنډه کورنۍ ذکر کړې او بل زده کورنۍ داسې
عمل اجرا کړي .

دې ټولګي زده کوونکو ته ښه دا چې سپ واقع شي کرښې دې خپله برخه
اولسه دې خپله برخه په کاغذ لیکي او کله چې ټولې به لاسونه دې هم موضوع تمثیل کړي .

اسد : ترهغه ځایه چې ماته ثابته شوېده دلاندې
تکو په مراعات کولو سره په کورنۍ کې د اتفاق او اتحاد
پایې په ښه توګه ټینګیدی شي .

- دخپل کورنۍ دغړو مینځ کې دوستانه نظم او
دسپلین رامنځ ته کړي .

- یو بل ته احترام کول زیات کړئ .

- د ورځنیو کارونو دلاسه کولو لپاره پاملرنه
وکړي .

- یو بل ته ګټه ورسوئ .

- هرکار په مشوره سره سرته ورسوئ .

- دخپلو ماشومانو په پرتله دوړو ماشومانو ته
ډېره مینه ورکړئ .

- یو بل ته لکه بدن او روح اوسئ .

کہ چیرې دکورنۍ یوغړې دخپل فامیل لـــه
اجازې څخه ورروسته چیرتہ ځې خپل آدرس کورکې
پریږدي .

کریم :- « اسدجانہ ! کہ هرہ کورنۍ داکارونـه
وکړي دهغوا تحاد او اتفاق بہ تل پرځای وي . مګر
لہ بدہ مرغہ زہ یوہ کورنۍ پیژنم چې دوہ ورونہ دي
هغوی داکارونہ نہ کوي . هغوی تل پہ جنګ او
دعوی کې دي . دهغوی فامیل هرشی تہ اړدی
حتی خینې وخت داسی هم کیږي چې دخښلو او ټوهم
محتاج وي . ژوند یې پہ غم او سپکاوی کې تیریږي .
لویانو ویلې دي چې لہ بې اتفاقی څخه پہ کورۍ کې اوبہ
وچیږي اوهغہ پدې کورکې پہ ستر ګولیدل کیږي .
رښتیا هم پہ بې اتفاقی کې غم ، سپکوالې ، بې عزتي او

۔څوک چې په کوچنیانو رحم اودلویانو
احترام نکوي اوپه ښو کارونو امر
اوله بدیو څخه نهي نه کوي له موږ څخه
نه دی ۔ (ترمذی)

۔ د مظلوم له ښېرا څخه ځان وساتئ، ځکه
مظلوم د ښېرا په کولو خپل حق له خدای (ج) څخه
غواړي اولوی خدای (ج) د هیچا حق
له ورکولو څخه منعه نه کوی ۔

۔((بیهقی))۔

لغت	معنی	لغت	معنی
عیاتو	بیهوده	فضیلت	برتری
تحقیق	پلمنه ـ څیړنه	منهیاتو	منع شوي

شاغلی ښوونکي دی د حضرت محمدؐ سره وینا په ساده ژبه تشریح کړي او بیا له هریو زده کوونکی څخه د غواړی چې هره وینا پخپله ژبه بیان کړي ۔

نا آرامی موجوده ده . له همدې سببه ده چې قرانکریم
مورله بې اتفاقی څخه منع کړې یو .

لغات	معنی	لغات	معنی
نظم	ترتیب	گټه	فایده
غړی	اعضاء		

د زده کړونکو څخه دې هغه نکی د پوښتل شي چې په کورنۍ کی د اتحاد او اتفاق سبب ګرځي .

بناغلی ښوونکي دې د زده کړونکو نظر یې په ټوره تخته ولیکی . بیا دې زده کړونکی هغه ولولي او بیا دوسته لوحې څخه دې وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکی . کله چې زده کړونکی کورته لاړل . هغه دې د کورنۍ نور وغړي ته ولولي .

کومکي غږونه

کومکي غږونه په پښتو کښې په دوه ډوله دي.

۱- یو ډول یې حرکتونه او بل ډول یې تورې دي.

مونږ تول اصلي تورې د غوغږ ونو سره کومک اومرسته وایو. ولې چې اصلي یا چوپ تورې یې د کومکي غږ و نوله مرستې پرته نه ویل کیږي. په پښتو کې دغه ورو سته حرکتونه موجود دي.

الف- زور لکه: ور، غر، غږ

ب- زورکی لکه: شل، وچ، مچ.

ج- ریږ: دا حرکت اوس د پښتو کلمو په

سرکی نه راځي او په دخیلو کلمو کی استعمالیږي.
لکه: کِل، سالم عٰالِم، ظالِم.

د ـ پایښت: دا حرکت هم د فارسی او عربی په دخیلو کلمو کښې راځي لکه: مُزد، تجاهل

۲ ـ په پښتو کښې کله، کله په یو ټیم حرکت باندې داواز زیات فشار او زور راځي چې هغه ته خ (اکسنت) وایي.

دخ په راتلو دیوې کلمې معنیٰ له بلې څخه توپیر پیدا کوي، لکه: غوټه، که دا واز زور په اوله خپه یعنی «غ» راشي د «گره» معنیٰ ورکوي او که په دو هـمه خپه یعنی «ټ» راشي نو د غرقیدو معنیٰ لري.

یا لکه «بنه» که خ به «ب» راشی د رنګ معنیٰ ورکوي

او کـه په «ن» ځانګې معنی ورکوي.

۳ـ غږوندی «سکون» په پښتو کې دغه وړوسته قاعدې لري.

الف: په پښتو کښې په ساکن توري باندې پیل کول روا دی او دنیم حرکت په ډول ویل کیږي لکه: سپوږمۍ، لمر، پسرلی، پښه.

ب: په پښتو کښې تر دری ساکنو پورې هم یوځای راتلای شي. مګر په دې شرط چې لمړی ساکن یې یوکومکي توری وي.

لکه: میاشت، ځلویښت، پنځوس او داسې نور

کومکی توری

په پښتو کې کومکي توري څلور دي، مګر هغه وخت کومکی توری کښل کیږي چې سا کن وي او دمخه تري بل کومکي توری نه وي راغلی د غه توري په لاندی ډول دي.

الف

۱ـ دکلمی په منځ او آخر کې راځي. لکه: کال. اکا، انا.

۲ـ و: واو په پښتو کې په څلور ډوله دي.

الف ـ نرم واو: چې پوست او نرم ویل کیږي او دمخه توری یې زور لري.

لکه: پلو، لو، کنډو.

ب ـ څرګند واو: چې د مخه تورۍ يې څرګند
اودروند پيښې لرې لکه: پکالو، چاکو، تالـو
ج ـ اوږد واو: چې او يا د اوږد نرم ويل کيږي
او د مخه تورۍ يې او يا اوږد پيښې لري لکه: پښتو
زانګو، پيشو، اور، کور، خور، موږ.
د ـ کوچنی واو: چې د مخه يې سپک لنډ
پيښې وي. لکه: لومړی، تاسو، پوښتنه.
۳ ـ (ی): په پښتو کې پر پنځه ډوله دی.
الف: نرمه (ی): چې پسته ويل کيږي او د
مخه تورۍ يې زور لري لکه: سړی، منګی، اوړی
مڼی، زمی، سيل.
ب: څرګنده (ی): چې د مخه تورۍ يې دروند او
څرګند زير لري.

د وستي، ښادي، شين، سپين .

ج – زورکی والړی، - چې دمخه تورې يې - زورکی لږی او يوازی د کلمې په پای کې راځي لکه هګۍ، خولۍ، کرکۍ، ښځلۍ .

د – اوږده ړی، - چې اوږده ويل کيږي او دمخه تورې يې اوږد ږيرلري .
لکه مڼې، شودې، کوټې، پڼې .

هـ – کوچنی ړی، : چې دمخه يې سپک لنډ زيږوی. لکه: باندې، پاتې .

٤ - ٥ : په پښتو کې پر دوه ډوله ده.

(الف) څرګنده اولويه (هـ) چې دمخه تورې يې زورلري لکه پياله، چوغکه، پوزه، کوټه شونډه .

ب ـ پښته او کوچنۍ ډه، چې د مخ توري يې
ژوړ رکې لري لکه پسه، ميکه او ږه، زړه .

د کلمې قسمونه

هغه لفظ چې ديو معنی او مقصد لپاره له
خولې څخه راوځي کلمه بلل کيږي په بل عبارت کلمه
يو معنی دار لفظ ته وايي .

مونږ ديوه مقصد د پوره څرګندولو لپاره
اړيو چې څو کلمې سره يوځای کړو. د کلمو
له يوځای کولو څخه کلام او جمله جوړيږي.
په پښتو کې د کلمو قسمونه يا د کلام اجزا
پنځه ډوله دي .

۱- نوم: چې دیوشي یا دیو کیفیت او حالت
نوم وي لکه لمر، زوی، ورور، چرګ، ویښ
، پوهه، فکر.

۲- ضمیر: چې د اختصار او لنډیز په غرض
د نوم پرځای ویل کیږي لکه زه، ته، دی، دا

۳- صفت: هغه کلمه ده چې دیو نوم، حالت
او خرنګوالی بیانوي لکه تیت. ځګر
تور، ټول، لږ، ډیر، خوږ، سور.

۴- فعل: هغې کلمې ته وایي چې په یوه
زمانه کې پریوکار او عمل باندې دلالت کوي
لکه ځم، کښینم، واخیست، وخوړ،
وبه وایم، وبه څښنم.

۵ - قید: هغې کلمې ته وایي چې د فعل یا صفت د پاره د قید او تمیز په ډول استعمالیږي. لکه ژر ژر، ورور ورو، ښه، پرون.

۶ - ادات یا توري: هغه چې خپلواکه معنی نه لري او د فعلونو او نومونو سره د یوې معنی لپاره استعمالیږي، ادات یا توري بلل کیږي. لکه له، د، ته، سره، تر، په، کښې، او نور.

د مفهوم له مخه دنوم قسمونه

نوم د مفهوم او معنی له مخې په پنځه ډوله دی.

۱ - خاص نوم: چې یوخاص سړی یا یوخاص شی معرفی کوي لکه سپوږمی، لمر، کندهار احمد شاه بابا، رحمان بابا، کابل، افغانستان.

د حضرت عمر (رض) تقوی او عدالت

حضرت عمر (رض) د رسول اکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) دویم یار او د اسلام پمقابل کې ورته خپل اوپردي یو و.
د مسلمانانو ترمنځ يې فرق نه کاوه او په هر معامله کې به يې له اسلامي عدالت او انصاف څخه کار اخیست.

حضرت عمر (رضی الله تعالی عنه) په عدالت او رښتینولۍ کې جهاني شهرت لري. رسول اکرم (صلی الله علیه وآله وسلم) دده د عدل او رښتینولۍ په هکله داسې فرمایلي: خدای عدالت د عمر (رض) په ژبه کې یو رنګ اینبی دی.

۲ - عام نوم: هغه دی چې یو خاص سړی یا شي تری نه مراد یږي، بلکه پرځیلوافرادو یوشان دلالت کوي. لکه سړی، لرګی، پانه، غونبه، هنداره.

۳ - دجنس نوم: هغه دی چې لږ او د یرو باندې یوشان دلالت کوی. لکه اوبه، غوړي، غنم، تیل.

۴ - دجمعیت نوم: هغه دی چې په لفظ کې مفرد وی او په معنی کې دیوې ډلې یا جمعیت لپاره راځي لکه لښکر، جرګه، رمه، ټولی، ولس.

دجمعیت نوم د یرو د لو په لحاظ جمع کیږي لکه: جرګې، رمې، ولسونه.

۵ - مجرد نوم هغه دی چې مادی وجود نه لري. یعنی په ستر ګو نه لیدل کیږي لکه عقل پوهه، ویره.

۷ـ نوم د جوړښت په لحاظ پر دوو ډلو دی،

الف: مرکب نوم: چې له دوو یا زیاتو کلمو څخه جوړشوی وی. لکه شیرپور، شیرشاه مینه، بریکوټ او نور.

ب: بسیط نوم: چې یوه مفرده کلمه وی او نور اجزا ئې ونه لری. لکه. کټ، اور، لاس، سر، نمړه او داسې نور.

محترم ښوونکی دې ډګر امری تورو او همیت هر یو ښاګرد ته ښه ښکاره کړی او مثالونه په لاس سره روښانه کړي.

ARIC
B
6421
SCA
90.07.45

نشروونکي اداره:

SWEDISH COMMITTEE FOR AFGHANISTAN
SCA
Established in 1980

مؤسسه تحویل کننده: سویدن
و بازار مشترك اروپا (EC)

سال چاپ: ۱۳۷۸ هـ.ش

تعداد: ٤٦٣٢

طبع: Rehmat Printing Press

اُدْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۚ

بولی تاسې رب خپل هروخت په زاری

عذرا وپه پټه سره «خکه چې په پټه بلل داخلاص

دلیل دی، بیشکه چې الله ج، نه خوښوی تیریدونکي» له شرعي

حدودو په دعا، بلکه په هرڅه کښې.

دُعا

پاکه ربه رحم ته زمونږ په حال کړې
موږه پوه د بندګۍ په لور کمال کړې
ته هادی د مخلوقاتو یې لویه خدایه
په خپل فضل سره ټول زمونږ اعمال کړې
هم ظاهر او هم باطن زمونږ د ټولو
د اسلام سپیڅلی دین باندې سمبال کړې
لوی خښتنه د توحید په حفظ لا ر ه
ته موږ کلکه عقیده لکه بلال کړې
ښه وحدت د کامیابی عظیم قوت دی
موږ په امن د نفاق له هر ډول جنجال کړې
په دښمنو برې غواړو ذوالجلاله
ته قبول زمونږ ټولو هر یو سوال کړې.

یوه ورځ دخزانې دروپو ویشلو په وخت کې د حضرت
عمر رض زامنو یوه روپۍ له بیت المال څخه زیاته
واخیسته حضرت عمر رض ورته وې ویل چې اوبه دې
قهر سره یې روپۍ له زامنو څخه واخیسته او بیت المال ته
یې وسپارلې بیا یې حاضرینو ته وویل: «زه د عمر رض
زامن او خپلوان د حق نه لرې چې له نورو مسلمانانو نه
څخه یوه روپۍ زیاته واخلي»

همدا رنګه یوه وخت حضرت عمر رض د عبدالرحمن
بن عوف رض څخه څلور سوه روپۍ وغوښتې،
هغه ورته وویل: ای امیرالمؤمنین اد مملکت
تولې خزانه ستا په لاس کې ده له خزانې څخه یې ولې نه اخلې؟
حضرت عمر رض ورته وویل: زه وپرېږم چې

دافغانستان اسلامي دولت
دښوونې او روزنې وزارت
دتألیف او ترجمې ریاست

د پښتو قرائت

دشپږم ټولګي لپاره

لیکوال: محمد صدیق «کامران»

د افغانستان اسلامي دولت

د سنو رنې او روزنې وزارت

د تالیف او ترجمې ریاست

د پښتو قرائت

د شپږم ټولګي لپاره

لیکوال: محمد صدیق کامران

۱۹۹۶ء کال

بیاکتونکی: د سنو رنې او روزنې د وزارت او نصابي مرکزي کمیسیون

بسم الله الرحمن الرحيم

د ښوونکی لپاره لارښود

۱- ښوونکي بايد ټولګي ته له ننوتو مخکې درسي پلان ولري.

۲- درسي پلان بايد د درسي ساعت مطابق جوړشي.

۳- ښوونکي بايد په ټاکلي وخت ټولګي ته داخل شي.

٤- ښوونکي بايد له پاکو جامو سره ټولګي ته ننووځي.

٥- ښوونکي بايد ټولګي ته د ننوتو په وخت کې سلام واچوي.

٦- ښوونکي بايد دنوی درس په پيل کې بسم الله ارحمن الرحيم ووايي.

۷- د (کلمو الناس علی قدر عقولهم) مقولی په نظر کې نيولو سره ښوونکي بايد د زده کوونکو له سويې سره سم درس ورکړی.

۸- ښوونکي بايد د درس لپاره ښه فضا برابره کړي.

۹- ښوونکي بايد د درس د اغيزمنتوب په منظور په تدريس کې له دول دول روشونو څخه کار واخلي.

۱۰- ښوونکي بايد خپل ځان د يو همکار په توګه زده کوونکو ته ور وپيژني.

۱۱- ښوونکي بايد د زده کوونکو کورنی کار وګوري او اصلاح يې کړي او هغوی دې خپلو غلطيوته متوجه کړي.

۱۲- ښوونکي بايد د زده کوونکو حاضري واخلي.

۱۳- ښوونکي بايد د تدريس په وخت کې خپل زده کوونکي ارزيابي کړي.

۱٤- ښوونکي ته لازمه ده چې د زده کوونکو په منځ کې دښه نیت او ورورولۍ فضا رامنځته کړي.

۱۵- ښوونکي دی د درس د اغیزمنتوب په خاطر خپل زده کوونکي وپیژني.

۱٦- ښوونکي باید خپلو زده کوونکوته په تدریس کې برخه ورکړي.

۱۷- ښوونکي دی ددرس په جریان او د درس په پای کې زده کوونکو ته د پوښتنو کولو حق ورکړي.

۱۸- ښوونکي دی زده کوونکو ته کورنۍ وظیفه ورکړي او د زده کوونکو کورنۍ وظیفې دې ملاحظه او اصلاح کړي.

۱۹- ښوونکي دی په تدریس کې له محیطي، ساده او ارزانو مواد وڅخه د جمعې، تفریق، ضرب او تقسیم په عملیوکې ګټه واخلي او همدارنګه ښوونکي دی په درس کې له چارټونو، نقشو، پوسټرونو او د سمعي او بصري له نورو موادو څخه کار واخلي.

۲۰- ښوونکي دی په داسې ډول د زده کوونکو پوښتنوته ځواب ووایي چې په راتلونکي کې د دوی د پوښتنو کولو استعداد کمزورې نشي.

۲۱- ښوونکي دی زده کوونکي و پوهوي چې ددې کتاب تمرینونه خپلو کتابچوته نقل او هلته دې حل کړي.